# د دوزخ عذابونه

## د شبِ قدر د اِجتماع بيان

پهٔ 16 مارچ، کال 2026ء

(بمطابق 26 رمضانُ المُبارَک شريف، کال 1447ھ)



د شبِ قدر د اِجتماع بیان

پهٔ 16 مارچ، کال 2026ء (بمطابق 26 رَمَضَانُ المُبَارَک شریف، کال 1447ھ (د ګل او د نهې ترمینځه شپه)

# د دوزخ عذابونه

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ـــ د زر کلن دوزخي بخښنه
- ـــ د دوزخیانو د عذابونو مختصره نظاره
- ـــ تقویٰ څهٔ ته وئیلے شي؟
- ـــ د دوزخ نه محفوظه سترګه

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اِسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه     وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه     وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:** چا چې په ما باندې يو ځل دُرُود پاک ولوستلو، **الله** پاک په هغۀ باندې 10 رحمتونه نازلوي او چا چې په ما باندې 10 کرته درود ولوستلو، **الله** پاک په هغۀ باندې 100 رحمتونه نازلوي او چا چې په ما باندې 100 کرته درود شريف ولوستلو، **الله** پاک د هغۀ د دواړو سترګو ترمينځه ليکي چې دا بنده د نفاق او د دوزخ د وور نه ازاد دے او هغه به د قيامت په ورځ د شهيدانو سره ساتي-(1)

اے مدینے کے تاجدار سلام | اے غریبوں کے غمگسار سلام
تیری اِک اِک اَدا پر اے پیارے | سو درودیں فِدا ہزار سلام
میرے پیارے پہ، میرے آقا پر | میری جانب سے لاکھ بار سلام
عرض کرتا ہے یہ حسنؔ تیرا | تجھ پر اے خُلد کی بہار سلام(2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1 ... معجم اوسط، جلد:5، صفحہ:252، حدیث:7235-

2 ... ذوقِ نعت، صفحه:170، 171 ملتقطاً-

# د بيان اوريدلو نيتونه

پۀ حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نيتونو دے۔ [1]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! پۀ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي۔ راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيَّتونه اوکړو: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❁ پۀ اَدب به کښينم ❁ ښۀ پۀ توجُّه به بيان اورم ❁ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، بڅپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د شبِ قدر فضيلتونه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! نن د رَمَضَانُ الْمُبَارَک کال 1447ھ 27مه شپه ده، د رحمتونو، برکتونو، عزتونو او د سلامتۍ شپه ده۔ ډير علمائے کرام د قرآن او د سُنَّت د دليلونو په رڼا کښې فرمائي چې هم د رَمَضَانُ الْمُبَارَک پۀ 27مه شپه شبِ قدر دے۔ ❁ علما فرمائي چې دا د اُمّت محمديه خصوصيت دے چې دوئي ته د شبِ قدر تُحفه عطا کړے شوې ده۔ [2]

| | |
|---|---|
| لَيْلَةُ الْقَدْرِ ۙ خَيْرٌ مِّنْ اَلْفِ شَهْرٍ ۝۳<br>(پاره:30، سورۂ قدر، آيت:3) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: شبِ قدر د زرو [1000] مياشتو نه بهتره ده۔ |

يعني په دې شپه کښې نيک عمل د زرو شپو د عمل نه هُم بهتر دے. نور ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| تَنَزَّلُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَ الرُّوْحُ فِيْهَا | تَرجمۂ کَنزُالعِرفان: په دې شپه کښې |

---

[1] ... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1 ۔

[2] ...المجموع شرح المہذب، جلد:6، صفحہ:447۔

بِاِذۡنِ رَبِّهِمۡ ۚ مِنۡ كُلِّ اَمۡرٍ ۛ﴿۴﴾

(پاره30،سورۀ قدر:4)

فرښتے او جبريل د خپل **رب** په حُکم د هر کار د پاره راکوزيږي

د **الله** پاک اخري نبي، **مُحَمَّدِ** عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چې کله شبِ قدر راځي نو د **الله** پاک پۀ حکم حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام د يوې شنې جنډې سره د فرښتو د ډير لوئي فوځ سره زمکې ته راکوزيږي او هغه شنه جنډا پۀ کعبه شريفه باندې پرڅوي [1] د يو روايت مطابق د هغه فرښتو شميره پۀ مخ د زمکې د کاڼو نه هم زياته وي، دا ټولې [فرښتې] سلام او رحمت راوړي او نازليږي۔ [2]

**پۀ حديثِ پاک کښې دي:** د حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام 100 وَزَرې دي، پۀ دې کښې هغوئي دوه وزرې صرف پۀ دې شپه برسيره کوي، هغه وزرې پۀ مشرق او مغرب کښې خورې شي، بيا حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام فرښتو ته حکم کوي چې کوم مسلمان نن شپه پۀ نـمونځ يا ذِکرُ الله کښې مشغول وي د هغۀ سره مصافحه اوکړئ او د هغۀ پۀ دعاګانو باندې آمين هم ووايئ۔ نورې فرښتے د هغوئي پۀ حکم باندې عمل کوي او تر سحره پورې هم دا سلسله روانه وي۔ [3]

سُستياں چھوڑ دے اُٹھ باندھ کمر آج کی رات
آج تھکنا نہیں مغرب تا فجر آج کی رات
آنکھ لگتی نہیں عاشق کی تو لمحہ بھر بھی
اور کب جاگے گا، جاگانہ اگر آج کی رات

---

1 ...شعب الایمان، باب فی الصیام، جلد:3، صفحہ:336، حدیث:3695۔

2 ...مسند بزار، جلد:16، صفحہ:261، حدیث:9447۔

3 ... شعب الايمان، باب في الصيام، فصل في ليلة القدر، جلد:3، صفحه:336، حديث:3695۔

دائیں بائیں وہی دُنیا، وہی دُنیا کے مکر
دیکھ سجدے سے اُٹھانا نہیں سَر آج کی رات
غافِلوں میں وہ کہیں نام نہ لکھ لیں تیرا
غول آئے ہیں ملائِک کے اُتر آج کی رات

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

# د زر کلن دوزخي بخښنه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! پهٔ يو حديث شريف کښې د زر [1000] کلن دوزخي واقعه ذِکر شوې ده، ډېره د سبق نه ډکه، د رحمت نه ډکه او د دوزخ د ويرې نه لړزونکې واقعه ده-

د حديثِ پاک پهٔ کتاب مسندِ اِمامِ اعظم کښې د صحابئ رسول حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے: يو ګس دربارِ رسالت ته حاضر شو او پوښتنه يې اوکړه: يا رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! آيا پهٔ ايمان والؤ کښې به هم څوک پهٔ دوزخ کښې پاتې کيږي (يعني هسې خو دوزخ هم د کافرانو د پاره دے، البته! ګنهګاران مؤمِنان به هم دوزخ ته ځي او بيا به د خپلو ګناهونو د سزا خوړلو نه پس جَنَّت ته راځي، د صحابئ رسول رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پوښتنه دا وه چې يا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! آيا داسې هم کيدے شي چې څوک وي خو مؤمِن، د خپلو ګناهونو پهٔ وجه دوزخ ته لاړ شي، او بيا هم هلته پاتې شي؟)

نبي کريم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: آؤ! يو ګس به وي، هغه به د دوزخ پهٔ يوه ژوره کنده کښې وي او د درد او تکليف نه به لړزيږي او چغې به وهي: يَا حَنَّانُ! يَا مَنَّانُ!

حضرت جبرائيل امين عَلَيْهِ السَّلَام چې د هٔغه ګس چغې واوري نو حيران به شي چې دا څوک دے چې پهٔ دومره درد سره الله پاک ته اوازونه کوي- هغوئي به دا برداشت نهٔ کړے شي، فوراً به د الله پاک د عرش سورې ته حاضر شي، سر به پهٔ سجده کيږدي- حکم به وشي:

جبرائيله! سر اوچت کړه! تا د حيرانتيا څهٔ خبره ليدلې ده؟ حضرت جبرائيل عَلَيۡهِ السَّلَام به عرض اوکړي: يا **الله** پاکه! د دوزخ د بيخ نه اواز راتلو، څوک د زړهٔ له درده، پهٔ لړزيدو لړزيدو د **يَا حَنَّانُ! يَا مَنَّانُ!** اوازونه کوي- حکم به وشي: جبرائيله! پهٔ دوزخ د مقررې فرښتې مالِک خوا له لاړ شه! هغوئي ته ووايه چې هٰغه کَس بهر راوباسي- حضرت جبرائيل عَلَيۡهِ السَّلَام به سمدستي لاړ شي، مالِک عَلَيۡهِ السَّلَام ته به د **الله** پاک حکم واوروي-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د دې ځائے نه مخکښې د روايت الفاظ ډير پهٔ توجه سره واورئ، خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: لکه څنګه چې مور خپل بچي پيژني، حضرت مالِک عَلَيۡهِ السَّلَام دوزخيان د دې نه هم زيات ښهٔ پيژني خو هٰغه **يَا حَنَّانُ! يَا مَنَّانُ!** اواز کوونکے به وه نهٔ موندلے شي- واپس به راشي او وه به وائي: اے جبرائيله! دوزخ اوس يوه ساه اخستې ده، د کومې پهٔ وجه چې حالت داسې شوے دے چې پهٔ اوسپنه او کاڼي کښې فرق ګران شوے دے (پهٔ داسې حالت کښې هٰغه بنده نشي موندل کيدے)-

دا چې واوري نو حضرت جبرائيل عَلَيۡهِ السَّلَام به واپس د **الله** پاک د عرش سورې ته حاضر شي، سر به پهٔ سجده کيږدي- حکم به وشي! څهٔ وشو؟ هٰغه بنده دې ولې را نه وستو؟ هغوئي به معامله عرض کړي- **الله** پاک به وفرمائي: اے جبرائيله! هٰغه بنده د دوزخ پهٔ فلانکې فلانکې کنده، پهٔ فلانکي فلانکي ګوټ کښې دے- لاړ شه! را وه يې باسه---!! حضرت جبرائيل عَلَيۡهِ السَّلَام به بيا د دوزخ طرف ته لاړ شي، حضرت مالِک عَلَيۡهِ السَّلَام ته به د هٰغه کَس پته وښائي- بيا به حضرت مالِک عَلَيۡهِ السَّلَام دوزخ ته دننه لاړ شي، هٰغه کَس به پهٔ يوه کنده کښې دننه موجود ومومي، د هغهٔ تندے به پهٔ ښپو پورې تړلے شوے وي، لاسونه به يې پهٔ غاړه پورې تړلي شوي وي، پړ مخې به د دوزخ پهٔ کنده کښې پروت وي، د دوزخ ماران او لړمانان به پهٔ هغهٔ باندې راجمع وي او هغه به د درد او تکليف پهٔ زياتوالي کښې **الله** پاک يادوي- حضرت مالِک عَلَيۡهِ السَّلَام به هٰغه کَس راوچت کړي، د هغهٔ

بیړۍ به پرانستے شي، ماران لړمان به ترینه لرې کړے شي- بیا به حضرت جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَام هُغه ګس د ځان سره کړي او د **الله** پاک په دربار کښې به یې حاضر کړي- **الله** پاک به هُغه ګنهګار اِنسان ته فرمائي: اے بنده! آیا تۀ ما په ښۀ شکل او صورت کښې نۀ وې پیدا کړے؟ اِنسان به عرض اوکړي: ولې نۀ مالکه! تا ما ته ډیر ښۀ شکل راعطا کړے وو- حکم به وشي: آیا ستا د هدایت د پاره رسولان نۀ وو راغلي؟ اِنسان به عرض اوکړي: ولې نه زما مالکه! رسولان راغلي وو- حکم به وشي: آیا تا ته زما کتاب نۀ وو در رسیدلے؟ اِنسان به عرض اوکړي: مولیٰ! را رسیدلے وو- **الله** پاک به وفرمائي: بیا تا فلانکي فلانکي ګناهونه ولې اوکړل؟ ولې زما په نافرمانو کښې پروت وې؟

د اِنسان سره به د وئیلو د پاره هیڅ نۀ وي، بس لاسونه به جوړه کړي او عرض به اوکړي: اے زما کریم مالکه! ما په خپل ځان باندې ظلمونه اوکړل، په ګناهونو کولو مې خپل ځان د دوزخ حقدار جوړولو، **اے حَنَّان او مَنَّان ربه!** زۀ د خپلو ګناهونو په وجه باندې د زر [1000] کالو پورې په دوزخ کښې ووم، د دې باوجود ستا د رحمت نه نا اُمیده شوے نۀ یم، چې زما فریاد به اوریدے شي، ستا رحمت به په جوش کښې راځي، په دې اُمید مې تا ته اوازونه کول، اے زما د عظمت والا ربه! اوس دې چې فضل فرمائیلے هم دے، د دوزخ نه دې راویستے هم یم نو په ما باندې رحم اوکړې، صرف د خپل رحمت په برکت ما وبخښې-

د اِنسان د داسې عاجزۍ په عرض باندې به د **الله** پاک رحمت په جوش کښې راشي، حکم به وشي: اِشْهَدُوا يَا مَلَائِكَتِي بِأَنِّي رَحِمْتُهُ **اے زما فرښتو! ګواه شئ! ما په دۀ باندې رحم وفرمائیلو (او دے مې وبخښلو)-** [1]

---

1... مسند امام اعظم، کتاب الایمان والاسلام... الخ، صفحہ: 81-85، حدیث: 28۔

فضل کر، رحم کر، تُو عطا کر
اور معاف اے خُدا ہر خطا کر

واسطہ پنجتن پاک کا ہے
یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے

عفوو رحمت کا بخشش کا سائل
ہُوں نہایت گنہگار و غافِل

میرا سب حال تجھ پر کھلا ہے
یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے

مجھ خطاکار پر بھی عطا کر
بے سبب بخش دے رَبِّ اکبر

مجھ کو دوزخ سے ڈر لگ رہا ہے
یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے

یاخُدا! ماہِ رمضان کے صدقے
سچّی توبہ کی توفیق دیدے

نیک بن جاؤں جی چاہتا ہے
یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے [1]

## د اللّٰہ پاک د رحمت نه امید مهٔ ماتوئ

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** کوم حدیثِ پاک چې مونږه واوریدو، د دې نه مونږ ته د زړکړې د پاره ډیر خیزونه میلاوؤیږي، د ټولو نه وړومبے خو د **اللّٰه** پاک رحمت او د هُغه اِنسان پهٔ نهٔ پریښودونکې امیدباندې غور اوکړئ! اِنسان ګنهګار دے، پهٔ دوزخ کښې دے، پهٔ زنځیرونو باندې تړلے دے، د زر [1000] کالو پورې د مارانو لړمانانو پهٔ قبضه کښې وو، د دې باوجود هغهٔ طمع نهٔ وه پریښودې، هغهٔ **اللّٰه** پاک ته اوازونه کول، اوازونه کول، پرله پسې د مایوسه کیدو نه بغیر یې اوازونه کول- اخر د هغهٔ فریاد واوریدے شو او هغه وبخښلے شو-

معلومه شوه چې مونږ له طمع پریښودل نهٔ ده پکار- د **اللّٰه** پاک رحمت ډیر پراخه دے، دومره پراخه دے چې مونږ یې سوچ هم نشو کولے-

---

[1] ...وسائلِ بخشش، صفحہ:134-136 ملتقطاً-

## بندګانو! مهٔ مايوسه کيږئ

الله پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

قُلۡ یٰعِبَادِیَ الَّذِیۡنَ اَسۡرَفُوۡا عَلٰۤی اَنۡفُسِهِمۡ لَا تَقۡنَطُوۡا مِنۡ رَّحۡمَةِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ یَغۡفِرُ الذُّنُوۡبَ جَمِیۡعًا ؕ (پاره:24، سورهٔ زُمر:53)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: تهٔ وفرمايه! اے زما هغه بندګانو! کومو چې پهٔ خپلو ځانونو زياتے کړے دے! د الله د رحمت نه مهٔ نا اُميده کيږئ، بے شکه الله ټول ګناهونه بخښي، بے شکه هُم هغه بخښونکے مهربانه دے۔

## د مسلمانانو سره ورومبۍ خبرې

د حضرت مُعَاذ بن جبل رَضِیَ اللہُ عَنْهُ نه روايت دے، رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: آيا زهٔ تاسو ته وه نهٔ وايم چې د قيامت پهٔ ورځ به د بندګانو او د الله پاک ترمينځه د ټولو نه ورومبۍ خبرې څهٔ وي؟ وه يې فرمائيل: الله پاک به فرمائي: (اے ايمان والؤ!) آيا تاسو به زما پهٔ دربار کښې د حاضرۍ شوق لرلو؟ بندګان به عرض کوي: آؤ مالکه! مونږ به ستا د ملاقات شوق لرلو۔ الله پاک به فرمائي: ولې؟ پهٔ څهٔ وجه به مو شوق لرلو۔ بندګان به عرض اوکړي: مولیٰ! زمونږ اُميد وو چې تهٔ به مونږ بخښې۔ الله پاک به فرمائي: قَدۡ وَجَبَتۡ لَکُمۡ مَغۡفِرَتِیۡ تحقيق ستاسو د پاره زما بخښنه واجِب شوه۔ (1)

مغفرت کا ہُوں تجھ سے سُوالی
پھیر نا اپنے دَر سے نہ خالی

مجھ گنہگار کی اِلتجا ہے
یاخُدا تجھ سے میری دُعا ہے

نارِ دوزخ سے مجھ کو اماں دے
مغفرت کرکے باغِ جناں دے

---

1...الزہد لابن مبارک، باب ذکر الموت، صفحہ:115، حدیث:276۔

کردے رحمت مری التجا ہے | یاخُدا تجھ سے میری دُعا ہے [1]
--- | ---

# د دوزخ د عذابونو سخت والے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د زر [1000] کلن دوزخي د بخښني چې کومه واقعه مونږه د حديثِ پاک په رڼا کښې واوريدله، د دې په يو بل اړخ باندې غور اوکړئ! دا خو د اللّٰه پاک رحمت دے چې هغه د لوئي نه لوئي ګنهګار بخښي-

خو سوچ اوکړئ چې که هغه وه نۀ بخښي نو هُغه دوزخ کوم چې د نافرمانو د پاره جوړ کړے شوے دے، څومره خطرناک دے- دا ګس د زرو [1000] کالو پورې په دوزخ کښې وو، په بيړو ترلے شوے وو، مارانو لړمانانو راګير کړے وو، بيا د حضرت مالِک عَلَيْهِ السَّلَام هُغه جواب هم ياد کړئ چې هغوئي يو يو دوزخي داسې پيژني لکه څنګه چې مور خپل اولاد پيژني، خو کله چې حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام د هُغه ګس د راويستو ووئيل نو هغوئي جواب ورکړو چې اے جبرائيله! دا وخت دوزخ ساه اخستې ده، دا وخت کاڼے د اوسپنې نه او اوسپنه د کاڼي نه جدا کول ډير ګران دي-

اَلاَمَان وَالحَفِيظ---!! د اللّٰه پاک پناه! د اللّٰه پاک پناه! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د کاڼي او د اوسپنې فرق به ختم کړي، دا به دومره سخت وور وي---!! آه! مونږ د کمزوري وجود والا، مونږ د خاورو نه جوړ خلق، مونږ خو د جون جولائي ګرمي نشو برداشت کولے نو د دوزخ وور به څنګه برداشت کوو، زمونږ څرمن کمزورې، زمونږ هډوکي کمزوري، کوم وور چې کاڼي وِيلې کوي، هغه به زمونږ په هډوکو کښې څۀ پريږدي---؟ اللّٰه پاک فرمائي:

كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُوْدُهُمْ بَدَّلْنٰهُمْ جُلُوْدًا | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: چې کله د
--- | ---

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:136 ملتقطاً۔

| | |
|---|---|
| غَيْرَهَا (پاره:5، سورۂ نساء:56) | هغوئي څرمنې ښې وسوزي نو مونږ به د هغوئي څرمنې په نورو څرمنو سره بدلې کړو- |

د دې آيت لاندې حضرت اِمام حسن بصري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي چې هره ورځ به وور هغوئي 70 زره کرته سيزي، کله چې هغه هغوئي وسيزي نو وئيلے به شي بيا خپل وړومبي حالت ته وګرځئ بس هغوئي به وړومبي حالت ته وګرځي- (1)

| | |
|---|---|
| ہائے حُسنِ عمل نہیں پلّے | حشر میں میرا ہو گا کیا یارَبّ! |
| گرمیِ حشر، پیاس کی شِدَّت | جامِ کوثر مجھے پلا یارَبّ! |
| خوفِ دوزخ کا آہ! رحمت ہو | خاکِ طیبہ کا واسطہ یارَبّ! |
| میرا نازُک بدن جہنّم سے | از طفیلِ رضا بچا یارَبّ! (2) |

## د دوزخ عذاب ډير سخت دے

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! بے شکه چې دوزخ داسې خيز نۀ دے چې د هغۀ نه غفلت اوکړے شي، د دوزخ عذاب ډير وحشت ناک دے- **الله** پاک په قرآنِ کريم کښې اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَاَنَّ عَذَابِیْ هُوَ الْعَذَابُ الْاَلِیْمُ ﴿۵۰﴾ (پاره:13، سورۂ حجر:50) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او بے شکه هُم زما عذاب دردناک عذاب دے- |

په يو بل ځائے کښې اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَشَدُّ وَاَبْقٰى ﴿۱۲۷﴾ (پاره:16، سورۂ طٰهٰ:127) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او بے شکه د اخرت عذاب د ټولو نه زيات سخت او د |

[1] … مصنف ابن ابی شیبه، کتاب ذکر النار، جلد:8، صفحه:97، حدیث:35۔

[2] … وسائلِ بخشش، صفحه:80۔

تولو نه زيات باقي پاتې کيدونکے دے۔

*–*–*

گناہگار ہوں میں لائقِ جہنّم ہوں
کرم سے بخش دے مجھ کو نہ دے سزا یارَبّ!
بُرائیوں پہ پَشیماں ہوں رَحم فرمادے
ہے تیرے قَہر پہ حاوی تِری عطا یارَبّ!

## غرونه به پۀ زمکه ننوځي

يو ځل د فرښتو سردار حضرت جبرائيلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام پۀ دربارِ رسالت کښې حاضر شو، د هغوئي رنګ داسي بدل شوے وو، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پوښتنه اوکړه: جبرائيله! څۀ خبره ده؟ زۀ ستاسو رنګ بدل وينم؟ حضرت جبرائيلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! دا وخت **الله** پاک د دوزخ د وور د بلولو حکم کړے دے۔ رسولِ خُدا، احمد مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: جبرائيله! ما ته د دوزخ په باره کښې ووايه! حضرت جبرائيلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! **الله** پاک دوزخ ته حکم اوکړو نو د دې وور د زر [1000] کالو پورې لمبه وو، د دې پورې چې وور سپين شو، بيا د زر [1000] کالو پورې لمبه کړے شو، د دې پورې چې وور سور شو، بيا دا د زر [1000] کالو پورې لمبه کړے شو، د دې پورې چې هغه بالکل تور شو، اوس د دوزخ وور تور دے، نۀ پۀ دې کښې بڅرے رڼاکيږي، نۀ د دې غرغنډې ختميږي، نۀ د دې لمبې مړې کيږي، پۀ هغه ذات مې دې قسم وي! چا چې تاسو رښتونے نبي راوليږلی، که د ستنې د سورې برابر هم دوزخ پرانستے شي نو ټول د زمکې والا به فنا شي، پۀ هغه ذات مې دې قسم وي! چا چې تاسو د حق سره راوليږئ! که د دوزخ د زنځيرونو يوه کړۍ د دنيا پۀ غرونو باندې کيښودے شي نو دا به ټوټې ټوټې شي او پۀ زمکه به ننوځي۔ (1)

---

[1] … موسوعه ابن ابی الدنیا، صفة النار، جلد:6، صفحه:432، حديث:157 ملتقطًا۔

| | |
|---|---|
| خوف دوزخ کا آہ! رحمت ہو | خاکِ طیبہ کا واسطہ یارَبّ! |
| میرا نازُک بدن جہنّم سے | از طفیلِ رضا بچا یارَبّ! |

## آه! زمونږ به څه کيږي---؟

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د دې روايت نه اندازه ولګوئ چې دوزخ څومره خطرناک دے که د ستن د سوري همره دوزخ پرانستے شي نو د ټولې زمکې والا به د دې د تپ او ګرمۍ په وجه فنا شي-

الله! الله! د ستن سورے څومره وي؟ په دې کښې تار اچول څومره ګران کار وي، دومره وړوکے شان سورے وي- چې د دومره وړوکي شان سوري برابر د دوزخ پرانستو سره دومره تباهي کيدے شي نو اندازه ولګوئ چې هغه بد نصيبه کوم چې به دې دوزخ ته غورځولے شي، آه! د دوزخ لمبې به د هغۀ په بدن پورې انښلي، بدن به تر دننه پورې د سيزلو سره ايره کړي، آه! د چا چې د سر نه واخله تر ښپو پورې تش وور وي، غور اوکړئ چې دا خطرناک وور به د هغۀ حال څنګه بے حاله کوي-

راځئ چې د په شريکه د ګنهګارانو د بخښوونکي آقا، د جَنَّت ورکوونکي آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار کښې فرياد اوکړو:

میں مجرم ہوں جہنّم میں اگر پھینکا گیا مجھ کو
ہلاکت ہو گی ہائے! کیا کروں گا یارسولَ اللہ!
لپک کر آگ کے شعلے لپٹتے ہوں گے، بربادی
کرم کر دو یہ سب کیسے سہوں گا یارسولَ اللہ!
اندھیری آگ ہو گی، روشنی بالکل نہیں ہو گی
کرم کر دو یہ سب کیسے سہوں گا یارسولَ اللہ!

وہاں کانوں میں، آنکھوں میں، دَہن میں پیٹ میں بھی آگ
کرم کر دو یہ سب کیسے سہوں گا یارسولَ اللہ!
فرشتے ڈانٹتے ہوں گے، ہتھوڑے مارتے ہوں گے
کرم کر دو یہ سب کیسے سہوں گا یارسولَ اللہ!
وہاں سانپ اور بچھو بھی مسلسل ڈس رہے ہوں گے
کرم کر دو یہ سب کیسے سہوں گا یارسولَ اللہ!
غذا دوزخ کی تھوہر اور اُوپر کھولتا پانی
کرم کر دو یہ سب کیسے سہوں گا یارسولَ اللہ!
نہ مانگے موت آئے گی، نہ بیہوشی ہی چھائیگی
کرم کر دو یہ سب کیسے سہوں گا یارسولَ اللہ!
جو تم چاہو گے تو ہوں گی مری سب مشکلیں آساں
وگرنہ نار میں، میں جا پڑوں گا یارسولَ اللہ!
تمہارا ہوں غُلام اور ہے غُلامی پر مجھے تو ناز
کرم سے ساتھ جنّت میں چلوں گا یارسولَ اللہ!(1)

## د دوزخیانو د عذابونو مختصره نظاره

حُجَّةُ الاِسلَام حضرت امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دوزخ د عذابونو نقشه رانښکلې ده او لیکلي يې دي چې دوزخيان به دوزخ ته وغورځولے شي او په داسې کور کښې به قيد کړے شي چې غاړې به يې تنګې وي، لارې به يې تيارې وي، په دې دوزخ کښې به د هلاکت اسباب وي، آه! د دوزخ وور به لمبه کړے شي، دوزخيانو ته به

1 ... وسائلِ بخشش، صفحه: 324 و325 ملتقطًا.

د ښځو د پاره خوټکیدلې اوبهٔ ورکولے شي، د عذاب فرښتے به هغوئي پهٔ ګرزونو باندې وهي، د دزوخیانو ښپې به د سر پهٔ ویښتو باندې تړلے شي او د ګناهونو پهٔ تور والي باندې به د هغوئي مخونه تور شي، دوزخیان به د دوزخ نه چغې وهي او په دوزخ مقررې فرښتې حضرت مالِک عَلَيْهِ السَّلَام ته به داسې اوازونه کوي: اے مالکه! پهٔ مونږ باندې د عذاب وعده رښتیا شوه، اے مالکه! بیړۍ پهٔ مونږ باندې ډیرې درنې دي، اے مالکه زمونږه څرمنې پخې شوې دي، اے مالکه! اوس مونږ د دې نه اوباسه مونږ به بیا بد اعمال نهٔ کوو- د دوزخ فرښتے به جواب ورکوي: هئ افسوس! د امان وخت تیر شو، اوس ستاسو د پاره د دوزخ نه د وتو هیڅ لار نشته! پراتهٔ اوسئ پهٔ دې کښې رټلے شوي او خبرې مهٔ کوئ، که تاسو یو ځل د دې نه ویستلے هم شئ نو تاسو به بیا هم هغه کوئ د کوم نه چې تاسو منع کولے شئ-

بیا به دوزخیان نا اُمیده شي او پهٔ خپلو ګناهونو باندې به افسوس کوي خو بیا به یې دا پښیمانتیا هیڅ پهٔ کار نهٔ راځي، نهٔ به یې افسوس څهٔ فائده کوي- دوزخیانو ته به طوق اچولے شي او پړ مخې به دوزخ ته غورځولے شي، پهٔ هغوئي باندې به د بره، لاندې، ښي ګڅ هر طرف نه صرف وور وي، هغوئي به پهٔ وور کښې دننه غرق وي، هم وور به د هغوئي خوراک وي، هم وور به یې لباس او هم وور به د هغوئي بستره وي، دوزخیانو ته به د تارکولو جامې اغوستے کیږي، دوزخیان به پهٔ ګرزونو وهلے کیږي، دوزخیانو ته به درنې بیړۍ اچولے کیږي، دوزخیان به د دوزخ پهٔ تنګو درو کښې چغې وهي او د دې پهٔ ژورو کندو کښې به ورته واکې اچولے شوې وي- پهٔ دوزخیانو به د کټوۍ پهٔ شان جوش وهونکے وور اچولے شي هغوئي به واویله کوي، فریاد او زاري به کوي او چغې به وهي، دوزخیان به چې کله هم مرګ غواړي د هغوئي پهٔ سرونو باندې به خوټکیدلې اوبهٔ اچولے شي کومې چې به د هغوئي څرمن او د خیټې دننه هر څه وِیلې کړي، د دوزخیانو د پاره

به د اوسپنې ګرزونه وي کوم چې به د هغوئي تندي چوري کړي او د هغوئي د خُلې نه به وينې زغوېږ راروانې وي، د سختې تندې په وجه به د هغوئي ځيګر وچوي، د هغوئي د سترګو کاتې به د هغوئي په مخ باندې وبهيږي او د اننګو غوښه به يې وه رژيږي، د هغوئي د اندامونو نه به وينښته بلکې څرمنه هم وغورځيږي، کله کله چې د هغوئي څرمن خرابيږي نو د بلې څرمنې سره به بدلولے کيږي- آه! د دوزخيانو هډوکي به د غوښې نه خالي شي د هغوئي روحونه به د هغوئي په رګونو او پټو کښې انښتي وي او د هغوئي رګونه به د دوزخ په وور باندې وَچ شي- هغوئي به مرګ غواړي خو هغوئي له به مرګ نۀ راځي- (1)

# د دوزخ نه نجات ورکوونکي اعمال

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! يقيناً چې د دوزخ عذابونه برداشت کول په مونږ کښې د چا هم د وَس کار نۀ دے- اوس لا مونږ ژوندي يو، زمونږ ساه ګانې چليږي، اوس موقع ده، راځئ چې نيک کارونه اوکړو، جَنَّت ته بوتلونکي، د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رضا والا کارونه اوکړو-

راځئ چې د دوزخ نه نجات ورکوونکي يو څو اعمال په دې نيت سره واورو چې هغه به باقاعده د خپل ژوند برخه جوړوو- اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم!

## (1): د دوزخ نه د خلاصي دُعا کوئ!

د دوزخ نه د بچ کيدو او د نجات حاصلولو د پاره وړومبے عمل خو دا دے چې د دوزخ نه د بچ کيدو د پاره د الله پاک نه سوال اوکړے شي- په حديثِ پاک کښې دي، د الله اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې د الله پاک نه درې کرته جَنَّت

1...احياء العلوم، كتاب ذكر الموت وما بعده، القول في صفة جهنم...الخ، جلد:4، صفحه:642،643-

وغواړي نو جنّت وائي: اِلٰهی! دے جنّت ته داخِل کړې او څوک چې درې کرته د دوزخ نه پناه وغواړي نو دوزخ وائي: اِلٰهی! دۀ له د وور نه امان ورکړې۔ (1)

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُاللهِ عَلَیه د دي حدیثِ پاک لاندې فرمائي: څوک چې روزانه سحر او ماښام یا پۀ ورځ کښې څۀ وخت هم یا پۀ ټول عمر کښې څۀ وخت هم درې کرته دا ووائي: اَللّٰهُمَّ اَدۡخِلۡنِی الۡجَنَّةَ (اِلٰهی! ما جنّت کښې داخِل کړې) او درې کرته دا ووائي: اَللّٰهُمَّ اَجِرۡنِیۡ مِنَ النَّارِ (یا الله! ما د دوزخ نه بچ کړې) نو ښځله به جنّت د هغۀ د پاره د داخلې دُعا کوي او ښځله به دوزخ د هغۀ د پاره پناه غواړي۔ (2)
د دوزخ نه پناه پۀ دې الفاظو سره غوښتلے شي: یا الله! ما د دوزخ نه بچ کړې!۔

گناه گار ہوں میں لائقِ جہنم ہوں
کرم سے بخش دے مجھ کو نہ دے سزا یاربّ!
بُرائیوں پہ پشیماں ہوں رَحم فرمادے
ہے تیرے قہر پہ حاوی تری عطا یاربّ! (3)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## سحر او ماښام د دوزخ نه د پناه غوښتو فضیلت

صحابئ رسول حضرت مسلِم بن حارِث رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ فرمائي: د **الله** پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته وفرمائيل: د سحر د نمونځ نه پس د خبرو کولو نه مخکښې دا کلمات 7 کرته لوله: اَللّٰهُمَّ اَجِرۡنِیۡ مِنَ النَّار (اے الله! ما د دوزخ د وور نه بچ کړې)۔ که تۀ پۀ هغه ورځ مړ شوې نو **الله** پاک به ستا د پاره د دوزخ نه امان ولیکي۔ دغه شان د ماښام د نمونځ نه پس د خبرو کولو نه مخکښې دا کلمات 7 کرته لوله: اَللّٰهُمَّ اَجِرۡنِیۡ مِنَ النَّار (اے الله! ما د

---

1 ... ترمذی، کتاب صفة الجنة، صفحه:605، حدیث:2572۔
2 ... مرآة المناجیح، جلد:4، صفحه:67۔
3 ...وسائلِ بخشش، صفحہ:78۔

دوزخ د وور نه بچ کړي)، بيا که تۀ پۀ دغه شپه مړ شوې نو **اللّٰه** پاک به ستا د پاره د دوزخ نه امان وليکي۔ [1]

## (2): تقوىٰ اختيار کړئ!

**اللّٰه** پاک پۀ قرآنِ کريم کښې اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| ثُمَّ نُنَجِّی الَّذِیْنَ اتَّقَوْا (پاره:16، سورۀ مريم:72) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: بيا به مونږه ويريدونکي بچ کړو۔ |

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** پۀ دې آيت مبارک کښې ووئيلے شو چې د قيامت پۀ ورځ ټولو ته پۀ دوزخ (يعنې پۀ پل صراط) باندې تيريدل دي، هُغه وخت به نجات هغوئي حاصلوي کوم چې د تقوىٰ والا، پرهيزګاره دي۔

معلومه شوه چې د **تقوىٰ** پۀ برکت د دوزخ نه نجات ميلاوېږي۔

## تقوىٰ څۀ ته وئيلے شي؟

تقوىٰ د ګناهونو نه د بچ کيدو نوم دے، حضرت سَهل بن عبد اللّٰه تستري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: کوم کَس چې غواړي چې د هغۀ تقوىٰ صحيح شي، هغه دې ټول ګناهونه پريږدي۔ [2]

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** تقوىٰ والا يعنې د ګناهونو نه بچ کيدونکي به د قيامت پۀ ورځ نجات موندونکي وي، مونږ له پکار دي چې مونږ هم تقوىٰ اِختيار کړو، د ګناهونو

---

[1]... ابو داؤد، کتاب الادب، صفحه:793، حديث:5079 بتقدم وتآخر۔

[2]... رساله قشيريه، باب التقوىٰ، صفحه:142۔

نه بچ شو، هيڅكله نـمونځ نۀ قضا كوو، روژې هم پوره نيسو، زكوٰة هم پوره وركوو، د فلمونو ډرامو، بے پردګۍ وغيره وغيره ګناهونو نه ځان ساتو نو اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! د دُنيا ژوند به مو هم ښه تيريږي او پۀ اخرت كښې به مو هم د نجات خيرات نصيب شي-اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم!

| | |
|---|---|
| گناہوں سے مجھ کو بچایا الٰہی! | بُری خصلتیں بھی چُھڑا یا الٰہی! |
| خطاؤں کو میری مِٹا یا الٰہی! | مجھے نیک خصلت بنا یا الٰہی! |
| تجھے واسطہ سارے نبیوں کا مولا | مِری بخش دے ہر خطا یا الٰہی! (1) |

## (3): د الله پاک د ويرې نه اوښكې توئيوئ!

يو ځل يو صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د رسالت صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دربار ته حاضر شو او عرض يـې اوكړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زۀ د كوم څيز پۀ ذريعه د دوزخ نه نجات حاصلولے شم؟ رسولِ رحمت، شفيعِ اُمت صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: د خپلو ستركو د اوښكو پۀ ذريعه- عرض يـې اوكړو: هغه څنګه؟ وه يـې فرمائيل: د الله پاک د ويرې نه ژړيږه! ځكه چې كومه ستركه د الله پاک د ويرې نه وژړيږي، هغې له به د دوزخ عذاب نۀ وي- (2)

| | |
|---|---|
| یا ربّ !میں تیرے خوف سے روتا رہوں ہر دم | دیوانہ شہنشاہِ مدینہ کا بنا دے (3) |

## د دوزخ نه محفوظه ستركه

د حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُما نه روايت دے، مكي مدني سركار، د زړونو قرار صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: دوه قِسمه ستركو ته به د دوزخ وور نۀ ورنزدې كيږي: (1): هُغه

---

1... وسائل بخشش، صفحه:100-

2... موسوعہ ابن ابی الدنیا، کتاب الرقہ والبکاء، جلد:3، صفحہ:170، حدیث:4-

3... وسائلِ بخشش، صفحہ:119-

سترګه کومه چې د شپې په څهٔ حصه کښې د **اللّٰه** پاک د ويرې نه وژاړي (2): او دويمه هغه سترګه کومه چې د **اللّٰه** پاک په لار کښې په څوکۍ کولو شپه تيره کړي۔[1]

حضرت نضر بن سعد رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: د چا د سترګې نه چې د **اللّٰه** پاک د ويرې په وجه اوښکه وبهيږي نو **اللّٰه** پاک د هغهٔ مخ په دوزخ باندې حرام فرمائي، که څه اوښکه د هغهٔ د اننګو پورې وبهيږي نو د قيامت په ورځ به هغه د ذِلت نه **محفوظ** وي، که څوک د يو څو کسانو په **مخکښې** د **اللّٰه** پاک د ويرې نه وژاړي نو **اللّٰه** پاک د هغې په برکت په باقي نورو خلقو باندې هم رحم فرمائي۔ نور فرمائي: د اوښکو نه علاوه به هر يو عمل تللے کيږي او د اوښکو يو څاڅکے به د وور سمندرونه مړهٔ کړي۔ [2]

| | |
|---|---|
| مرے اشک بہتے رہیں کاش ہر دم | ترے خوف سے یا خدا یا الٰہی! |
| ترے خوف سے تیرے ڈر سے ہمیشہ | میں تھر تھر رہوں کانپتا یا الٰہی! [3] |

## د **اللّٰه** پاک د ويرې نه د ژړيدو عادت څنګه جوړيدے شي؟

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** معلومه شوه چې د **اللّٰه** پاک د ويرې نه ژړيدل د دوزخ نه بچ کوونکے عمل دے، کاش چې زمونږ هم خالص د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره د **اللّٰه** پاک د ويرې په وجه ژړيدل نصيب شي۔

روزانه په تنهايۍ کښې که کيدے شي نو هديرې ته ځئ او په پټې سترګې کښينئ، خپله کمزوري او بے وسي په خيال کښې راولئ، خپل ګناهونه يادوئ او سوچ کوئ چې آه! که په ګناهونو راګير کړے شوم، **اللّٰه** پاک زما نه ناراضه شو نو زهٔ به څهٔ کووم؟ آه! ډير زر به حضرت ملک المَوت عَلَیْہِ السَّلَام تشريف راوړي، زما رُوح به قبض کولے شي، بيا به زر زر زما

[1]… ترمذی، کتاب الجهاد، صفحه:416، حديث:1639۔
[2]… موسوعة امام ابن ابي الدنيا، کتاب الرقة والبکاء، جلد:3، صفحه:172، حديث:14۔
[3]… وسائل بخشش، صفحه:105۔

دوستان خپلوان غسل راکړي، کفن به راته واچوي او د جنازې کولو نه پس به مې تيارهٔ قبر ته کوز کړي، داسې تنګ کور، داسې تنهائي، ويره، سخته تيارهٔ چې چرې به مخکښې د دې تجربه نهٔ وي شوې، لا به د مرګ تکليفونه هم نهٔ وي کم شوي چې د قبر وحشت---! او لا دا وحشت به نهٔ وي لرې شوے چې مُنکر نَکِير به تشريف راوړي، آؤ! آؤ! په قبر کښې به اِمتحان وي، افسوس، افسوس! ډير افسوس! که زهٔ په خپلو ګناهونو راګير کړے شوم او په قبر کښې په اِمتحان کښې ناکامه شوم نو زما به څهٔ کيږي؟ آه! که د قيامت په ورځ په ګناهونو باندې راګير کړے شوم، خُدائے دې نهٔ کړي زهٔ دوزخ ته وغورځولے شوم نو زما به څهٔ کيږي---؟ هئ! هئ! هٔغه د دوزخ خطرناکې سزاګانې، د هٔغه ځائے لوئې لوئې ماران، د وحشي اوښانو په شان لړمانان، ډير تيز وور چې کوم چې به دننه وجود هم سيزي، آه! که زما معافي نصيب نهٔ شوه، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شفاعت نه هم محرومه شوم او زهٔ دوزخ ته وغورځولے شوم نو زما به څهٔ کيږي---؟؟

| | |
|---|---|
| دِل ہائے گناہوں سے بیزار نہیں ہوتا | مَغلوب شَہا! نفس بدکار نہیں ہوتا |
| اے ربّ کے حبیب آؤ! اے میرے طبیب آؤ | اچھا یہ گناہوں کا بیمار نہیں ہوتا |
| گو لاکھ کروں کوشش اِصلاح نہیں ہوتی | پاکیزہ گناہوں سے کِردار نہیں ہوتا |
| یہ سانس کی مالا اب بس ٹوٹنے والی ہے | غفلت سے مگر اب بھی بیدار نہیں ہوتا (1) |

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد**

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** داسې که خپل ګناهونه او قبر او اخرت په سوچ کښې راولی نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! د **الله** پاک د ويرې نه به مو زړهٔ په رپيدو شي او په سترګو کښې به مو اوښکې هم راشي- **الله** پاک دې زمونږ د **الله** پاک د ويرې نه ژړيدل نصيب کړي- اٰمِين

**بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم -

---

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:163 ملتقطاً۔

## (4): د ثواب په نيت باندې اذان کوئ

د صحابئ رسول حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما نه روايت دے، مالِک او مختار، د دوارو جهانو تاجدار، د زړونو قرار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چا چې د ثواب د پاره د 7 کالو پورې اذان اوکړو، د هغهٔ د پاره د دوزخ نه نجات ليکلے کيږي۔ [1]

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: څوک چې بغير د تنخوا نه 7 کاله اذان اوکړي، **الله** پاک د هغهٔ د پاره د دوزخ نه ازادي او جَنَّت ته د داخليدو چيټۍ ليکلے کيږي او د قيامت په ورځ هغهٔ له ورکولے شي۔ [2]

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې د **الله** پاک د رضا د پاره اذان کول هم د دوزخ نه بچ کوونکے عمل دے۔ کاش چې مونږ د اذان سعادت حاصلوونکي جوړ شو، اذان کول څهٔ ګران کار خو نهٔ دے، مونږ اَلْحَمْدُلِلّٰه! مسلمانان يو، هم د ماشومتوب نه اذانونه اورو، په ټول اذان کښې صرف 15 کلمات دي، دا کلمات په ښه طريقه ياد کړئ او يو عاشقِ رسول قاري صاحب ته يې واوروئ! بيا وخت په وخت صرف د **الله** پاک د رضا د پاره په جومات کښې اذان کوئ، که **الله** پاک وغوښتل نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! ډير ثوابونه به حاصل کړئ او د دوزخ نه به نجات هم نصيب شي۔

## د اذان په فضيلتونو باندې درې حديثونه

(1): رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د ثواب د پاره اذان کوونکے د هغه شهيد په شان دے کوم چې په وينو لَت پت شوے وي او چې کله مړ شي نو په قبر

---

[1] ...ابن ماجه، کتاب الاذان، باب فضل الاذان وثواب المؤذنين، صفحه:125، حديث:727۔

[2] ...مرآة المناجيح، جلد:1، صفحه415۔

کښې به د هغهٔ په بدن کښې چينجي نهٔ کيږي-[1] (2): پهٔ يو حديثِ پاک کښې دي، فرمائي: زهٔ جَنَّت ته لاړم، هلته مې د ملغلرو ګنبدونه وليدل- پوښتنه مې اوکړه: اے جبرائيله! دا د چا د پاره دي؟ عرض يـې اوکړو: ستاسو صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اُمت د اذان کوونکو او د اِمامانو د پاره- [2](3): رحمتِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چا چې د پينځهٔ وارو نـمونځونو اذان د ايمان پهٔ بِنا د ثواب پهٔ نيت باندې اوکړو هغهٔ چې کوم ګناهونه مخکښې کړي وي معاف به شي- [3]

## (5): د جَمعې سره د نـمونځ بندوبست کوئ

د صحابئ رسول، حضرت اَنس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے، د مدينے تاجدار، د زړونو قرار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې د **الله** پاک د رضا د پاره 40 ورځې د تکبيرِ اولیٰ سره د جَمعې سره نـمونځ اوکړي، د هغهٔ د پاره دوه ازادئ ليکلے شي: (1): يوه ازادي د نار (يعني دوزخ) نه او (2): دويمه ازادي د نفاق نه-[4]

| | |
|---|---|
| میں پانچوں نَمازیں پڑھوں باجماعت | ہو توفیق ایسی عطا یاالٰہی! |
| میں پڑھتا رہوں سُنّتیں، وقت ہی پر | ہوں سارے نوافِل ادا یاالٰہی! |
| دے شوقِ تلاوت دے ذَوقِ عبادت | رہوں باوُضو میں سدا یاالٰہی[5] |

## (6): د شروع او د زيارت د ورځې روژه نيسئ!

---

[1] … معجم کبیر، جلد:6، صفحہ:242، حدیث:13378 ملتقطاً۔
[2] … جامع صغير، صفحه:255، حديث:4179۔
[3] … كنز العمال، كتاب الصلاة، قسم الاقوال، جز:7، جلد:4، صفحه:279، حديث:20902۔
[4] … ترمذی، كتاب الصلاة، صفحه:78، حديث:241۔
[5] … وسائل بخشش، صفحه:102۔

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې د شروع او د زيارت د ورځې روژه ونيسي، د هغهٔ د پاره د دوزخ نه ازادي ليکلے کيږي- [1] پهٔ يو حديثِ پاک کښې دي: چا چې د رمضان او شوال روژې ونيولې، داسې چې چا د شروع او د زيارت روژه ونيوله، هغه به جَنَّت ته داخليږي- [2]

**اللّٰه** پاک دې مونږ ته هم د نفلي روژو د نيولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم -

## (7): د مسلمان ورور حاجت پوره کول

د حضرت عبد اللّٰه بن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُما نه روايت دے، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې د خپل ورور د حاجت پوره کولو د پاره روان شي او د هغهٔ سره همدردي اوکړي نو **اللّٰه** پاک به د هغهٔ او د دوزخ ترمينځه 7 خندقونه جوړ کړي، پهٔ هغې کښې به د هر خندق د بل نه دومره فاصله وي، څومره چې د زمکې او د اسمان ترمينځه ده- [3]

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مونږ له هم پکار دي چې مونږ د دوزخ نه د بچ کيدو او جَنَّت ته د تللو د پاره د خپلو مسلمانانو ورونړو سره همدردي کوو، د هغوئي پهٔ کار راځو، که چا ته د قرض ضرورت وي نو د خپل وَس مطابق قرض ورکوو، پهٔ غريبانو باندې خرچ کوو، ورې مړوو، دغه شان د عزيزانو خپلوانو هم پهٔ کار راځو، د ګاونډيانو هم پهٔ کار راځو، د دوستانو هم پهٔ کار راځو، غرض دا چې د کوم مسلمان هم څهٔ جائز حاجت وي، مونږ د خپل وَس مطابق صرف او صرف د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره د هغهٔ مدد کوو، د دې پهٔ

---

1 … مسند ابي يعلیٰ، مسند عبد الله بن عمر، جلد:4، صفحه:329، حديث:5629ـ

2 … سنن کبریٰ للنسائی، جلد:3، صفحه:215، حديث:2791ـ

3 … موسوعة امام ابن ابي الدنيا، کتاب قضاء الحوائج، جلد:4، صفحه:168، حديث:35ـ

برکت به اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیم! الله پاک مونږ د دوزخ نه بچ کړي او جَنَّت ته به مو داخِل کړي۔

## شفاعت به ميلاؤيږي

د حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللهُ عَنْهُما نه روايت دے، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې د خپل مسلمان ورور حاجت پوره کړي، زۀ به د قيامت پۀ ورځ د ميزان سره ولاړ يم، که د هغۀ د نيکئ والا چابړے درونده وو نو ټيک، کنې زۀ به د هغۀ شفاعت کووم۔ (1)

شَفاعت حشر میں فرماؤ گے جب خوش نصیبوں کی
مجھے کرلینا آقا اُن میں شامل یارسولَ الله

## (8): د قرآنِ کريم تِلاوت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** پۀ قرآن او حديث کښې نور هم ډير اعمال بيان شوي دي د کومو پۀ برکت چې د دوزخ نه نجات حاصليږي او جَنَّت ته داخليدل نصيب کيږي۔ پۀ هغې کښې يو ډير ښکلے نيک عمل د قرآنِ کريم تِلاوت هم دے۔

د صحابئ رسول حضرت ابو هريره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، صاحبِ قرآنِ محبوبِ رحمان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: قرآنِ کريم به د قيامت پۀ ورځ تشريف راوړي او د تِلاوت کوونکي سفارش به کوي او د الله پاک پۀ دربار کښې به وائي: اے رَبِّ کريمه! دۀ ته ښکلا ورعطا کړې۔ نو تلاوت کوونکي ته به د کرامت تاج پۀ سر کړے شي۔ قرآنِ کريم به وائي: يَارَبِّ زِدْهُ اِلٰهی! اِضافه پکښې اوکړې۔ نو تلاوت کوونکي ته به د کرامت جامې واغوستلے شي، قرآنِ کريم به وائي: يَارَبِّ اِرْضَ عَنْهُ اے رَبِّ کريمه! د دې بنده نه راضي شې۔

[1] ... حلیۃ الاولیاء، مالک بن انس، جلد:6، صفحہ:389، رقم:9038۔

**الله** پاک به د هغه نه راضي شي او حکم به وشي: اے بنده قرآنِ کريم لوله، د جَنَّت په درجو خيژه- (1)

تلاوت کروں ہر گھڑی یا الٰہی! | بکوں نہ کبھی بھی میں واہی تباہی

## صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## الله پاک هٰغه زړۀ له عذاب نۀ ورکوي

د حضرت ابو اُمامه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ نه روايت دے، د **الله** پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: قرآن لولئ! بے شکه کوم زړۀ چې د قرآنِ کريم کڅوره وي، **الله** پاک هٰغه زړۀ له عذاب نۀ ورکوي- (2)

فلموں سے ڈراموں سے عطا کر دے تُو نفرت | بس شوق مجھے نعت و تلاوت کا خُدا دے

## د سورۀ حٰم السجده برکت

حضرت حسن بن عَمرو فزاري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: حضرت ثابت بناني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه يو ځل د حضرت مُطَرَّف بن عبد الله رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه خوا له لاړو، هٰغه وخت حضرت مُطَرَّف رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه بے هوشه وو، حضرت ثابت بناني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه وليدل چې د بے هوشۍ په حالت کښې د حضرت مُطَرَّف رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه نه د نُور درې شعلې پورته کيږي، يو د سر نه، بل د خِيټې نه او دريمه د ښپو د طرف نه- فرمائي چې مونږ وليدل نو ويريدو، کله چې هغوئي لږ ټيک شو نو مونږ عرض اوکړو: مونږ ستاسو د سر، خِيټې او د ښپو د طرف نه د نُور پورته کيدونکې شعلې

---

1... شُعَبُ الايمان، جلد:2، صفحه:347، حديث:1997 ملتقطاً-

2... مصنف ابن شيبة، كتاب الزہد، كلام ابي امامة، جلد:8، صفحه:191، رقم:3-

وليدلې- حضرت مُطَرَّف رَحْمَةُاللهِعَلَيْه وفرمائيل: آيا واقعي چې تاسو داسې ليدلي دي؟ عرض مو اوکړو: آؤ جي! پۀ دې باندې حضرت مُطَرَّف رَحْمَةُاللهِعَلَيْه وفرمائيل: دا د سورۀ حٰم السَّجده د تِلاوت برکت دے- د دې سورت مبارک 30 آيتونه دي، ورومبي 10 آيتونه د سر د طرف نه، مينځني 10 آيتونه، د مينځ نه او اخري 10 آيتونه د ښپو د طرف نه پورته کيږي او زما يقين دے چې دا به زما شفاعت هم کوي- (1)

## د سورۀ کهف برکت

د سيفُ الدِّين بَلبَان بيان دے چې ما پۀ هديره کښې يو ګس وليدو، هغۀ د يو قبر پۀ خوا کښې ناست وو او پۀ ژړا ژړا يــې تلاوت کولو، ما د هغۀ نه د ژړا د وجهې پوښتنه اوکړه نو هغۀ ووئيل چې دا زما د دوست قبر دے، دۀ زما د سترګو د وړاندې پۀ تلاوت کولو ساه ورکړې وه، د دفن کيدو نه پس ما دے پۀ خوب کښې وليدلو، هغۀ ما ته ووئيل چې کله تاسو زۀ پۀ قبر کښې کيښودم او لاړئ نو يو غضبناک سپے زما طرف ته راوړاندې شو، نزدې وه چې هغه پۀ ما باندې حمله کړې وے خو يو ډير ښکلي او پاک بزرګ هلته تشريف راوړلو او سپے يــې د هٔغه ځائے نه پۀ مخه کړو او زما پۀ خوا کښې کيناستو، د هغوئي پۀ صحبت باندې زما ډير سکون نصيب شو، ما د هغوئي نه پوښتنه اوکړه: تاسو څوک يــئ؟ وه يــې فرمائيل: تا به د جُمعې پۀ ورځ سورۀ کهف لوستلو زه د هغې ثواب يم- (2)

اللّٰه پاک دې مونږ ته هم د قرآنِ پاک د ښه ډير تلاوت کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... تاريخ دمشق، مطرف بن عبد الله، جلد:58، صفحه:334-

2... الدرالكامنة فى اعيان المائة لابن حجر عسقلانى، جلد:5، صفحه:352-

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: نيک اَعمَال

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! په زړه کښې د دوزخ ويره راپيدا کولو، د نيکو رَغبت حاصلولو او د عبادت شوق زياتولو د پاره د عاشقانِ رسول د دِيني تحريک دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ او د ذيلي حلقے پۀ 12 ديني کارونو کښې هم ښه ډيره برخه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دنيا او اخرت بے شميره خيرونه به درنصيب شي- پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار دے: نيک اعمال

اَلْحَمْدُلِلّٰه! شيخِ طريقت اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نۀ يواځې خپلو مريدانو بلکې د ټولې دُنيا عاشقانِ رسول ته، اِسلامي خوئيندو، پۀ جامعة الـمدينه او مدرسة الـمدينه لوستونکو نارينۀ او زنانۀ ته، سپيشل پرسنز (يعني ګونګو، کڼو او نابيا خلقو) ته، د حج او د عمرې سعادت حاصلوونکو خوش قِسمتو ته، د دې پورې چې د جيل قيديانو ته هم د خپلې اِصلاح د پاره بهترينه نسخه ورکړې ده او هغه ده: رساله نيک اَعمال- تاسو هم د جيب سائز دا مختصره رساله د مکتبة الـمدينه نه حاصله کړئ، دا ولولئ، د نيک اعمال ايپليکيشن هُم موجود دے که غواړئ نو هغه انسټال کړئ او د دې مطابق ژوند تير کړئ او روزانه د خپلو اعمالو جاج اخلئ- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د ګناهونو نه د بچ کيدو او د نيکو کولو ذِين به مو جوړيږي، د زړۀ پاکي به مو نصيب شي او کردار به مو صفا سوتره، ځليدونکے او ډير ښکلے شي-

## مدني سپرلے

د کراچۍ د علاقې نيو کراچي د يو اِسلامي ورور بيان دے چې د علاقې پۀ جومات کښې اِمام صاحب کوم چې د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره تعلق لري، هغوئي زما مشر ورور له نيک اعمال رساله پۀ تحفه کښې ورکړه، هغه چې وليدله نو حيران شو چې پۀ دې

مختصر شان رساله کښې يو مسلمان ته د اِسلامي ژوند تيرولو دومره زبردسته فارمولا ورکړے شوې ده، بس نيک اعمال رسالې د هغوئي په ژوند کښې انقلاب راوستو، د دې په برکت اَلْحَمْدُلِلّٰه! د هغوئي د نـمونځ جذبه نصيب شوه او د جُمعې سره د نـمونځ کولو د پاره جومات ته حاضر شو او اوس هغوئي 5 وخته نـمونځ گزاره جوړ شوے دے، ډيره مبارکه يـې هم پريښودې ده او نيک اعمال رساله هم ډکوي۔ (1)

تُو ولی اپنا بنا لے اُس کو ربِّ لَم یَزَل | مَدنی اِنعامات پر کرتا ہے جو کوئی عمل

**نوټ**: د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې مدني انعامات ته اوس نيک اَعمَال وئيلے شي۔

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** بيان د ختميدو طرف ته بوځو او د سرسايه په باره کښې د يو څو مدني گلونو د بيانولو سعادت حاصلوو۔

## د سر سايه په باره کښې مدني گل

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** سر سايه په ټولو مسلمانانو نارينؤ او زنانؤ باندې واجِب ده څوک چې **صاحبِ نصاب** وي او د هغوئي نصاب د **حاجت اَصلِيه** (يعني د ژوند د ضرورتونو مثلاً د اوسيدو کور، په کور کښې اِستعماليدونکي سامان وغيره) نه زيات وي ❀ د چا سره چې اوؤه نيمې تولې سرۀ زر يا 52 نيمې تولې سپين زر يا د 52 نيمو تولو سرو زرو رقم يا د دومره ماليت مالِ تجارت مال وي (او چې دا ټول د حاجاتِ اَصليه نه زيات وي) يا د دومره ماليت د حاجتِ اَصليه نه علاوه سامان وي هغۀ ته صاحبِ نصاب وئيلے شي ❀ د سر سايه د واجب کيدو د پاره، **عاقل** او **بالغ** کيدل شرط نۀ دے۔ بلکې که ماشوم يا مجبون (يعني ليونے) هم صاحبِ نصاب وي نو د هغۀ په مال کښې دې د هغه وَلي (يعني

[1] ... جَنَّت کے طلب گاروں کے لئے مدنی گلدستہ، صفحہ:14۔

پالونکـے) ادا کړي ❁ د نصاب پۀ مالک باندې د ځان د طرف نه، د خپلو وړو بچو د طرف نه او که څوک مجنون (يعني پاګل) اولاد وي (که هغه ليونے اولاد بالغ ولې نۀ وي) نو د هغۀ د طرف هم سر سايه واجِب ده، آؤ که هغه ماشوم يا ليونے پخپله صاحِب د نصاب وي نو بيا دې د هغۀ د مال نه سر سايه ورکړے شي ❁ پۀ پلار باندې د خپل عاقل او بالغ اولاد سر سايه واجِب نۀ ده ❁ که پلار نۀ وي نو د پلار د طرف نه نيکۀ د والِد صاحب پۀ ځائے دے- يعني د خپلو غريبانو او يتيمو نمسا نمسو د طرف نه پۀ هغوئي باندې سر سايه ورکول واجب ده ❁ د څۀ صحيح شرعي مجبورۍ پۀ وجه که روژې وه نۀ نيولے شي يا مَعَاذَ الله! بغير د مجبورۍ نه يـې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک روژې وه نۀ نيولې نو پۀ هغۀ باندې هم د صاحبِ نصاب کيدو پۀ حالت کښې سر سايه واجِب ده ❁ ښځې که د خاؤند د حکم نه بغير د خاؤند سر سايه ورکړه نو نۀ ادا کيږي ❁ د وړوکي اختر د صبح صادق راختلو پۀ وخت چې څوک صاحبِ نصاب وو پۀ هغوئي باندې سر سايه واجب ده، که د صبح صادق نه پس صاحبِ نصاب شو نو بيا واجب نۀ ده ❁ د سر سايه د ادا کولو افضل وخت هم دغه دے چې د اختر د صبح صادق نه پس د اختر د نـمونځ کولو نه مخکښې مخکښې ادا کړے شي، که د اختر پۀ شپه يا پۀ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې پۀ هره ورځ بلکې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک نه مخکښې هم که چا ادا کړه نو بيا هم سر سايه ادا شوه او داسې کول بالکل جائز دي- [1]

## د فطرې [سر سايه] ادا کولو 4 طريقې

د سرسايه [يعني فطرې] د مقدار 4 اعتباره دي : (1): عجوه کجورې (2): وچکې (3): [عامې] کجورې (4):وربشې مبارکې يا د هغې وړه (5): غنم يا د هغې وړه ❁ که د عجوه

[1]... فيضان رمضان، صفحه:313تا315 ملتقطاً۔

کجورېپه اعتبار سرسایه ادا کول وي نو په دې کال (2026ء کښې) په پاکستان کښې د هغې مقدار 19 زره 2 سوه روپۍ في کس دے ❀ د وخکو په اعتبار 72 سوه روپۍ ❀ د [عامو] کجورو په اعتبار 26 سوه روپۍ ❀ د وربشو مبارکو په اعتبار 11 سوه روپۍ او ❀ د غنمو په اعتبار 300 روپۍ. د سرسایه په ادا کولو کښې د خپل حېثیت لحاظ ساتل پکار دي، چا ته چې الله پاک مال او دولت ورکړے دے، هغه ته پکار دي چې ❀ د عجوه کجورو په اعتبار ❀ یا د وخکو په اعتبار سرسایه ادا کړي ❀ څوک چې دا نهٔ شي کولے نو د عامو کجورو په اعتبار سره او ❀ څوک چې دومره طاقت هُم نهٔ لري، هغه دې د وربشو مبارکو په اعتبار سره ❀ او څوک چې د دې هُم طاقت نهٔ لري، هغه دې د غنمو په اعتبار حساب سره سرسایه ادا کوي. څومره چې د خُدائے په لاره کښې زیات خرچ کوئ، هومره به ثواب هُم زیات میلاویږي او اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیْم! زیات برکتونه به مو نصیب کیږي.

## د عطیاتو ترغیب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ستاسو خپل دِیني تنظیم دعوتِ اِسلامي، دا وخت د اتیاؤ [80] نه پهٔ زیاتو شعبو کښې د دِین پهٔ خدمت کښې مصروف دے۔

❀ اَلْحَمْدُلِلّٰه! د کنزُ الـمدارس بورډ (***Kanzul Madrasah Board***) پهٔ نوم د دعوتِ اِسلامي خپل تعلمي بورډ دے ❀ 1500 نه زیات **جامعات الـمدینه** (ګرلز اینډ بوائز)، 19 زره 900 **مدارس الـمدینه** (بوائز اینډ ګرلز) جوړ کړے شوي دي، پهٔ کومو کښې چې حفظ او ناظره، عالِم کورس (درسِ نظامي)، مختلف تخصصات (***Specialization***)، فرائض علوم کورسز کولے شي ❀ پهٔ جامعات او مدارسُ الـمدینه ***(Boys & Girls)*** کښې د طالبِ علمانو شریکه شمیره قریباً **5 لاکهه 69 زره** ده۔ ❀ د زیات عمر اِسلامي ورونړو او اِسلامي خوئیندو ته د قرآنِ کریم د تعلیم ورکولو د پاره پهٔ زرګونو مدارس الـمدینه بالغان و بالغات

جوړ کړے شوي دي پۀ کومو کښې چې د لوستونکو شمیره پۀ لکونو کښې ده ❁ د فیضان آن لائن اکیډمي (***Faizan Online Academy***) پۀ ذریعه دِیني تعلیم ورکړے کیږي، پۀ کوم کښې چې د لوستونکو شمیره قریباً **27 زره** ده او د قریباً د **64 زره** نه زیات مختلف کورسونه شوي دي ❁ د دِیني او شرعي لار ښودنې د پاره **22 دار الافتاء اهلسنت** جوړ کړے شوي دي ❁ د **الـمدینةُ العلمیه** ***(Islamic Research Center)*** پۀ ذریعه پۀ دیني لټریچر باندې تحقیقي کار کیږي، اوسه پورې پۀ **2108 کتابونو او رسالو** باندې کار شوے دے ❁ د فیضانِ اِسلامک سکول، دار الـمدینه (سکول، کالج، یونیورسټي) شمیره **299** او د نارینؤ او زنانؤ طالبِ علمانو شمیره **د 54 زره** نه زیاته ده ❁ د دِیني لټریچر د چاپ کولو د پاره چاپ کوونکي اداره **مکتبة الـمدینه** جوړه کړے شوې ده ❁ د شعبه قافله د لاندې عاشقانِ رسول ❁ د 12 میاشتو ❁ یوې میاشتې ❁ 12 ورځو ❁ او د درې ورځو پۀ قافلو کښې د سفر کولو سعادت حاصلوي، پۀ **یو کال** کښې د سفر کوونکو شمیره د **10 لاکهه** نه زیاته ده، ټول اِسلامي وروڼه کوشش اوکړئ چې مونږ ټول پۀ شریکه هم د نیکۍ د دعوت د عام کولو د پاره ځپله هم پۀ قافلو کښې سفر اوکړو او نور هم تیار کړو او سفر پرې اوکړو ❁ پۀ هفته واره اِجتماع کښې پۀ لکونو اِسلامي وروڼه شرکت کوي، مونږ هم دا سعادت حاصل کړو، ځپله هم د شروع نه د اخره پورې شرکت اوکړو او نور هم تیار کړو او د ځان سره یـې راولو ❁ پۀ ټوله دُنیا کښې د دعوتِ اِسلامي د دِیني کارونو کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي پوره تنظیمي سیټ اپ دے، د ذیلي حلقې نه د مرکزي مجلسِ شوریٰ پورې پوره نظام قائم دے، ښار پۀ ښار، کلي پۀ کلي ذمه داران موجود دي ❁ د عاشقانِ رسول پۀ تربیت کولو هغوئي د دِیني کارونو د پاره ملک او بهر ملکونو ته لیږلے کیږي، هغوئي ته باقاعده تنخوا ګاني ورکړے کیږي او هغوئي فارِغ البَال (یعنې د ګټې وټې نه پۀ بے پروا کیدو) د دِین خِدمت کوي ❁ د میډیا پۀ مختلف پلیټ فارمز باندې هم د دِین د خِدمت

سلسله روانه ده ❀ پۀ پرنټ میډیا (کښې د ډېرو کتابونو او رسالو سره سره د ماهنامه فیضانِ مدینه د چاپ کولو سلسله جاري ده کومه چې دا وخت د دُنیا پۀ 7 ژبو کښې د ټولو نه زیاته چاپ کیدونکې ماهنامه ده) ❀ پۀ سوشل میډیا (مثلاً، یوټیوب ***(YouTube)***، فیس بُک ***(Facebook)***، انسټا ګرام ***(Instagram)*** وغیره) باندې ملینز فالورز (***Millions Followers***) دي او د ویوز شمیره پۀ بلینز (***Billions***) کښې ده ❀ د دې نه علاوه د مَدَني چینل، اُردو، انګلش، بنګله ژبو کښې، کِډز (***Kids***) مَدَني چینل، د مشرانو د پاره مَدَني چینل او د عربی د ویب چینل پۀ ذریعه د دِین اِسلام خدمت کولے شي۔

**تاسو هم د دِین د خِدمت پۀ دې کار کښې خپله حصه شامله کړئ! خپل عطیات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده یعنې ډونیشن پۀ هر قِسمه جائز، دیني، اِصلاحي، فلاحي، روحاني، د خیر ښیګړې، پۀ ښو او د امدن زیاتولو پۀ جائز او محفوظو کارونو کښې لګیدے شي د پاره د دې چې زیاتې شوې خرچې پرې پوره کړے شي۔**

دعوتِ اسلامی کی قَیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم

اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یااللہ مری جھولی بھر دے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## لیــلـۃُ الـجائِزہ (د اختر پۀ شپه) کښې د عبادت ترغیب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! آه---!! د روژې میاشت زمونږ نه جُدا کیږي، دا ماهِ ذِیشان مونږ پریږدي، د دې مبارکې میاشت هر سعت د رحمت نه ډک دے، **اللّٰه** پاک که یو خوا مونږ ته د لیــلـۃُ الـقدر پۀ شان عظیمه شپه عطا کړې ده نو بل خوا یــې د دې مبارکې میاشت نه فوراً پس لیــلـۃُ الـجائِزہ یعنې د انعام شپه هم عطا کړې ده ❀ پۀ دې شپه باندې **اللّٰه** پاک خپل رحمتونه نازلوي ❀ دا د بخښنې شپه ده ❀ دا شپه د خپل رَبّ د

عبادت کولو شپه ده چې کوم بنده پۀ دې شپه باندې د **اللّٰه** پاک عبادت کوي **اللّٰه** پاک د هغه د پاره جنّت واجب کوي۔ [1] ټولو عاشقانِ رسول خاص طور اعتکاف کوونکو ته پکار دي چې دا شپه پۀ جوماتونو کښې د **اللّٰه** پاک پۀ عبادت کښې تیره کړي حضرت ابراهیم نَخَعي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَیۡه فرمائي: بزرګانِ دِین رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَیۡهِم به د اِعتِکاف کوونکو د پاره دا خبره خوښوله چې د وړوکي اختر شپه هم پۀ جومات کښې تیره کړي۔ [2]

**صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب!        صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد**

## د وړوکي اختر نه پس د شپږو روژو ترغیب

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** د **رَمَضَانُ الۡمُبَارَک شریف** نه پس **شوال شریف** راتلونکے دے۔ خوش قِسمته مسلمانان پۀ دې میاشت کښې د وړوکي اختر نه پس د شپږو روژونو نیولو سعادت حاصلوي۔ راځئ چې د دې روژو فضائل واورو چې د دې روژو د نیولو او د دې د برکتونو نه د فیض حاصلولو ذهن مو جوړ شي، ✿ **پۀ حدیثِ پاک کښې دي:** چا چې د رمضان روژې ونیولې، بیا یې 6 ورځې پۀ شوال کښې روژې ونیولې نو د ګناهونو نه داسې ووتلو لکه چې هم نن د مور د خېټې نه پیدا شوے وي۔ [3] ✿ چا چې د رمضان روژې ونیولې، بیا یې د هغې نه پس پۀ شوال کښې 6 روژې ونیولې۔ نو داسې ده چې لکه ټول عمر یې روژې ونیولې۔ [4] ✿ خَلیلِ مِلّت مفتي محمد خلیل خان برکاتي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَیۡه فرمائي: دا روژې که د اختر نه پس پرله پسې ونیولے شي نو بیا پکښې هم څۀ باک نشته او بهتره دا ده چې پۀ هره هفته کښې دوه روژې او د اختر پۀ دویمه ورځ یوه

---

[1] …الترغیب و الترہیب، کتاب العیدین، الترغیب فی احیاء لیلتی العیدین، صفحه:373، حدیث:2۔

[2] …فیضانِ رمضان، صفحه:279، 280۔

[3] …مجمع الزوائد، کتاب الصیام، باب فیمن صام …الخ، جلد:3، صفحه:322، حدیث:5102۔

[4] …مسلِم، کتاب الصیام، باب استحباب صوم …الخ، صفحه:424، حدیث:1164۔

روژه ونیسي او که پۀ تېوله میاشت کښېي یـې ونیسي نو نور هم مناسب معلومېږي- (1)

## د اختر پۀ شپه پۀ قافلو کښې د سفر کولو ترغیب

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د **رَمَضَانُ الْمُبَارَک شریف** میاشت اوس د لږ وخت میلمنه ده او ډېره زر رخصتیدونکې ده- بیا به اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د اختر شپه راشي- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! هر کال د اعتکاف سعادت حاصلوونکي خوش قِسمته اِسلامي وروڼه او د نورو عاشقانِ رسول یوه شمیره **د ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح د کوشش** د مقدسې جذبې لاندې پۀ دې شپه د قافلو مسافر جوړېږي- هسې خو دا ډېر ګران کار دے خو یاد ساتئ چې د نیکۍ دعوت ورکول او پۀ دې لاره کښې مشقت کول د انبیائے کرامو عَلَیهِمُ السَّلَام سُنَّت دي ❁ انبیائے کرام عَلَیهِمُ السَّلَام ❁ صحابۀ کرام عَلَیهِمُ الرِّضوَان ❁ نیکان خلق به د نیکۍ د دعوت ورکولو د پاره د کورونو نه وَتل ❁ لرې لرې علاقو ته به تلل ❁ هجرت به یـې کولو او ❁ پۀ مشقت سره به یـې د دِین پیغام عام کولو ❁ هُم د مخکښېنو پۀ قربانو مونږ ته دا دِین رارسیدلے دے-

تاسو هم د اختر د شپې نه پۀ قافله کښې د سفر کولو نیت وکړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! ډېر برکتونه به مو نصیب شي ❁ پۀ قافله کښې فرض عِلمِ دِین ښودلے کیږي ❁ سُنَّت ښودلے کیږي ❁ د تهجدو کولو سعادت نصیب کیږي ❁ د نیکۍ د دعوت عام کولو موقع میلاؤیږي ❁ د قافلې پۀ برکت د دعاګانو د قبلیدو ❁ د مشکلاتو د لرې کیدو ❁ د بیمارو نه د شِفا میلاؤیدو هم پۀ سوونو واقعات موجود دي ❁ داسې هم شوي دي چې پۀ قافله کښې د سفر کوونکو عاشقانِ رسول د ډاډګیرنې د پاره خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم فرمائیلے دے، پۀ خوب کښې یـې تشریف راوړے دے او پۀ قافله

---

[1] ... سنی بهشتی زیور، صفحه:347۔

کښې شرکت کوونکو ته يې ديدن ورکړے دے- **الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد**

## فيضانِ حديث موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ له خوا ډير فائده مند موبائل ايپلي کيشن په نوم د "فيضانِ حديث" په ***Play Store*** او ***App Store*** باندې وړاندې کړے شوے دے- په دې ايپلي کيشن کښې تاسو د حديثِ پاک مشهور کتابونه مثلاً ✿ مِشْكٰوةُ الْمَصَابِيْح او د دې اسانه اُردو شرح مِرْاٰةُ الْمَنَاجِيْح ✿ الأَرْبَعِيْن النَّوَوِيَّة د اُردو ترجمې او شرحې سره ✿ رِياضُ الصَّالِحِين د اُردو ترجمې او شرحې سره ✿ أَرْبَعِيْنِ حَنَفِيَّہ(اردو) ✿ او مُنْتَخَب اَحَادِيث (اُردو) شامل کړے شوي دي- ✿ د دې ايپلي کيشن په مدد سره تاسو حديثونه مبارک په کتابي شکل کښې (يعنې د جلدونو په لحاظ سره هم لوستلے شئ او د مختلفو موضوعاتو په لحاظ سره هم د خپلې خوښې موضوع لوستلے شئ ✿ د سرچ آپشن [يعنې د لټولو آپشن] په مرسته حديثونه مبارک لټولے هم شئ- ✿ په دې کښې د حديثِ پاک د عربي متن د اعرابو سره او د اعرابو نه بغير، په دواړه قِسم د کتلو سهولت کيښودے شوے دے ✿ د لوستلو د نوټس ***Notes*** محفوظ کولو د پاره د خوښې د حديثونو د ***Favorite*** کولو آپشن هم ورکړے شوے دے ✿ د مختلف فاؤنټس ***Fonts*** او د حديثونو د شيئر ***Share*** کولو سهولت هم ورکړے شوے دے-

هم نن په خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ کړئ! پخپله هم د حديثِ پاک فيضان حاصل کړئ! او نورو ته هم ترغيب ورکړئ!

# يو څو ضروري اعلانونه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! يو څو اعلانونه واورئ! ❀ اَلوَداع ماهِ رمضان لوستل جائز دي که نهٔ؟ د دې په باره کښې مکتبةُالمدينه د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ناياب فتاویٰ او د نورو علمائے کرامو رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡهِم په فتاویٰ مشتمله زبردسته رساله "الوداع ماهِ رمضان" چاپ کړې ده. دا رساله د مکتبةُالمدينه نه په 12 روپۍ قيمتاً حاصلولے شئ ❀دغه رنګ اختر خنګه تيرول پکار دي او په دې کښې کوم اعمال کول پکار دي، په دې باره کښې هم يوه رساله "میٹھی عید اور میٹھی باتیں" چاپ شوې ده. دا رساله هم په 15 روپۍ قيمتاً د مکتبةُالمدينه د کومې هم څانګې نه حاصليدے شي ❀ د وړوکي اختر د وړومبۍ ورځې نه په فيضانِ مدينه فيصل آباد کښې به د يکم شوال نه واخله تر 7 شوال پورې؛ د 7 ورځو تصوف کورس کيږي، دا کورس به رکنِ شوریٰ نګرانِ پاکستان مشاورت حاجي محمد شاهد عطاري ښائي، ټول اسلامي وروڼه په دې کورس کښې شرکت اوفرمائئ!

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنۡ اَحَبَّ سُنَّتِیۡ فَقَدۡ اَحَبَّنِیۡ وَمَنۡ اَحَبَّنِیۡ کَانَ مَعِیَ فِی الۡجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جَنَّت کښې زما سره وي-[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جَنَّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

[1]... تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-

# دعا کول د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اَلدُّعَاءُ سِلَاحُ الْمُؤْمِنِ دعا د مؤمِن وَسله ده۔ (1)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! دعا کول د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي ❀ زمونږه خوږ آقا، د دوارو جهانو داتا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ډيرې دعاګانې کولې ❀ بعضې مُحَدِّثينو د سرکارِ عالي وقار، د مکې مدينې د تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکو دعاګانو په باره کښې پوره پوره کتابونه هم ليکلي دي، مثلاً په دې کتابونو کښې د ډوډۍ خوړلو دعا، د اوبو څښلو دعا، د اوده کيدو دعا، د خوب نه د راپاڅيدو په وخت لوستلے کيدونکې دعا، د پټيو [شودو] څښلو دعا، د جامو اغوستو دعا۔ غرض زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د امروزه کارونو نه مخکښې هم دعاګانې کولې ❀ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به دا دعا ډيره زياته کوله: (2)

| | |
|---|---|
| رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً (پاره:2، سورهٔ بقرة: 201) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے زمونږه ربه! مونږ ته په دُنيا کښې خير راکړې او مونږ ته په اخرت کښې (هُم) خير راکړې ۔ |

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د بهارِ شريعت جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله 550 سنتیں اور آداب واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک

1 ... مسند ابي يعلى، جلد:2، صفحه:123، حديث:1812۔
2 ... بخاري، كتاب: الدعوات، صفحه:1574، حديث:6389۔

سفر کول هم دے۔

| | |
|---|---|
| علم حاصل کر، جہل زائل کرو | پاؤ گے راحتیں، قافلے میں چلو |
| سنتیں سیکھنے تین دِن کے لیے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو |

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!   صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد